جمهورية مصر العربية ٢٢ رجب ١٤٤٠هـ
وزارة الأوقاف لغة البشتو ٥ ابريل ٢٠١٩م

## مسؤليت

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا} ژباړه: « موږ چي دغه امانت اسمانونو، ځمکې او غرونو ته وړاندي کړ، نو هغوی يې پورته کولو ته تيار نشول او ورڅخه ووېرېدل، خو انسان هغه پورته کړ؛ بېشکه دغه (انسان) غټ ظالم او جاهل دی»، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ټولو ملګرو باندي.

و بعد:

يقينا الله جل جلاله انسان ته داسي کرامت ورکړی چې هغه يي پخپلو لاسونو پيدا کړی روح يي پکي اچولی او ملائکي يې اړ کړې ترڅو سجده ورته وکړي، همدارنګه د بيلابيلو چارو له کبله يې پخپلو نورو مخلوقاتو باندي غوراوی ورکړی چې په هغې کښې مسؤليت او شرعي مکلفيت راځي، نو هيڅ عاقل او بالغ انسان د مسؤليت څخه خالي نه وي بغير لدي چې په ټولنه کي د هغه مرتبي ته وليدل شي پخپله غاړه مسؤليت لري، نو هر شخص د خپل توان او د خپلي دندي د چوکاټ په اندازه مسؤليت لري.

بي له شکه مسؤليت مخکي لدي چې يوه مرتبه او مقام وي يو ډول مکلفيت او امانت دی، څوک چې د مرتبي او مقام په سترګه ورته وګوري او د لاسته راوړلو لپاره يي د ناوړه لارو څخه ګټه پورته کړې نو د سمي لاري څخه خويېږي او ناوړه پايلي له ځانه سره لري او چاته چې مسؤليت وسپارل شي او د هغې حق ادا کړي نو هرو مرو به الله تعالی د هغه سره مرسته کوي، پدي هکله نبي کريم صلی الله عليه وسلم عبد الرحمن بن سمره ته وفرمايل: ای عبدالرحمانه! ته د چوکۍ او د امارت غوښتنه مه

کوه ځکه که چیرته دا بغیر له غوښتني درکړل شي نو الله به تاسره پدي کې مرسته کوي او که ته ددي غوښتنه وکړي نو دا به ستا په غاړه امانت وي د ابي ذر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي ما نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته وویل اې د الله رسوله آیا ماته کومه دنده نه سپاري؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل لاس زما په اوږو کیښودو او وی فرمایل اي ابوذره ته ناتوانه یې او مسئولیت یو امانت دی چې د قیامت په ورځ به د هغه پوښتنه کیږي او پښیمانتیا به وي مګر د هغه چا لپآره چې د هغه حق یې اداء کړی وي او هغه څه یې سرته رسولي وي چې ورباندي دي.
مسئولیت ډیر ډولونه لري چې لدي جملی څخه یو هم کورنی مسئولیت دی ځکه کورنۍ د ټولني په برقرارۍ کې لوي رول لري او د ټولني په جوړښت کې یو بنسټیز اصل دی او د ټولني د دفاع لومړنۍ کربښه ده د کورني د جوړښت په هکله د الله په وړاندي والدین مسئول دي دوی باید د ټولني په برقرارۍ کې ونډه واخلي او دوي باید خپل واجبات په بشپړه توګه سره سرته ورسوي او هغه حقوق ترلاسه کړي چې ورته ځانګړي شوي دي.
د اسلام مبارک دین دغه حقوق او واجبات په څرګند ډول بیان کړي دي او د کورني د غړو ترمنځ یې ویشلی دي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: هر یو په تاسو کې چوپان او د خپل د رعیت مسئول دی بادشاه چوپان او د خپل ولس مسئول دی سړی د خپلي کورنۍ چوپان او د خپل رعیت مسئول دی ښځه د خپل خاوند د کور چوپانه او مسئوله ده خادم د خپل بادار د مال چوپان او مسئول دی نوهر یو په تاسو کې چوپان او د خپل رعیت مسئول دی. نو د کورني بریا او برقراري د ټولي کورنۍ د غړو د حقوقو او د واجباتو د ساتني پوري اړه لري چې باید له پامه و نه غورځول شي او تفریط پکښې سرته ونه رسیږي.
نو د کورنۍ د وګړو ترمنځ مسئولیت یو د بل بشپړ کوونکي او تبادلي دي چې حقوق واجبات او متبادل احترام لري او هریو وګړی باید خپل رول

اداء کړي او دا باید په ډیري میني اخلاص او امانتداري سره سرته ورسوي هر هغه څوک چې پدي کې کوتاوالي او یا هم تفریط وکړي او هغه ضایع کړي نو د الله په وړاندي به مسئول وي چې آیا دغه امانت یی ساتلی دی او که ضایع کړی دی؟ ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: یقینا الله جل جلاله به د هر هغه چاڅخه چې امانت یی ورته سپارلی وي د هغي د رعیت پوښتنه کوي چې آیا د هغي ساتنه یي کړي ده او که هغه یي ضایع کړی دی؟ تردي چې د سړي څخه به د هغه د کورنۍ پوښتنه کیږي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د یو چا لپاره همدغه ګناه بسنه کوي چې هغه د خپل لاس لاندي خلک ضایع کړي او د هغوي سمه روزنه ونکړي.

د مسئولیت د شکلونو څخه بل هم وظیفوي مسئولیت دی، مسئولیت د دندي له لوړوالي سره لوړیږي چې یو چاته وسپارل شي هر څومره چې دنده لوړیږي همغومره د مسئولیت چوکاټ هم ورسره پراخیږي چې باید ځانګړي صفتونه مسئول شخص ولري چې ځیني په لاندي ډول دي:

توانمندي، برابري، تجربه، امانت، او ددغه مسئولیت په سرته رسولو کې توان درلودل ځکه چې هر انسان لومړۍ د خپل نفس په وړاندي مسئول دی بیا د خلکو په وړاندي او بیا د الله جل جلاله په وړاندي د هغه څه مسئول دی چې ورته سپارل شوي دي ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: هر هغه شخص ته چې د لسو کسانو چاره هغه ته سپارل شوي وي یا د هغه څخه د زیاتو کسانو نو د قیامت په ورځ به هغه لاس تړلي راځي چې د خپلي غاړي پوري به یي لاس تړلي وي که چیرته د هغوي سره یي نیکي کړي وي نو لاسونه به یی خلاصیږي او که نیکي یی نه وي کړي او د ګناه مرتکب شوی وي نو هغه به همداسي تړلي پاتي کیږي.

همدارنګه د هر هغه چا لپآره چې د خلکو چاره ورته وسپارل شي او یا هم کومه دنده ورته ورکړل شي مناسبه ده چې دا درک کړي چې هغه ته

امر کړی شوی دی چې باید په ښه ډول یې سرته ورسوي او الله جل جلاله د هغه څارونکي دی نو هغه باید په ډیري هوښیاری او درک سره د عام مال سره چال چلند وکړي او په هغه کې د خپلي دندي په اندازه تصرف وکړي او بخیلي او حرام دي پکې نه ترسره کوي او د هیڅ کوم نامه لاندي باید هغه مال بی ځایه استعمال نکړي.
همدارنګه مونږ پدي ټینګار کوو چې هر یو مسئول هغه که په هره سطحه باندي وي هغه ته مناسبه نده چې بي پروایی او غفلت وکړي او یا دا چې د ټولو هغو دندو چې د مسئولیت په چوکاټ کې ورته سپارل شوي دي د هغي تعقیب ونکړي هرڅومره چې یوه چاره هغي ته وړوکي او یا آسانه ښکاري ښایي هغه د لوي ضرر لامل شي نو لازمه ده چې باید دټولو چارو تعقیب وکړي او بغیر له تعقیب څخه باور ونکړي ځکه چې د تعقیب مقصد دا ندی چې بی باوري وي بلکي د چارو ښه سمبالول دي.
همدارنګه هر مسئول چاراواکی د خپل مسئولیت په چوکاټ کې باید خپل همکاران داسي څوک غوره کړي چې هغوي پیاوړي او امانتداره او په دنده کې مناسب وي که چیرته د مسلمانانو یوه ډله داسي یو څوک وګماري چې له هغي څخه بل شخص مناسب او وړ وي هغه که له هر اړخه وي نو په حقیقت کې دوي د الله جل جلاله د هغه د رسول او د خپل هیواد په وړاندي په امانت کې خیانت ترسره کړی دی.
د مسئولیت د شکلونو څخه بل هم ټولنیز مسئولیت دی د اسلام مبارک دین بیلابیل داسي ټولنیز بنسټونه ایښي دي چې د هغی په ساتني سره باقراره ژوند رامنځته کیږي او همدارنګه په ټولنه کې د خلکو ترمنځ مینه محبت او احترام او یو له بل سره ټولنیز مرسته رامنځته کیږي او پدي بنسټ باندي چې ټول خلک سره برابر دي او ټولنه د یو بدن په څیر ګرځي که چیرته نن ورځ مونږ په خلکو کښې فکر وکړو نو ځیني پدوی کښې بی وزله دي چې د خپلي لوږي د ختمولو لپآره څه نشي پیدا کولي او ځیني پدوی کښې ناروغان دي چې د خپلي ناروغي لپاره درمل نشي پیدا کولی

همدارنګه پدوي کښې کونډي رنډي يتيمان او کمزوري خلک دي او ځيني داسي دي چې د پاملرني لپاره يي څوک نشته نو ددغه ټولو خلکو اړتياوو پوره کول د ټولو ټولنيز، شرعي او ملي مسئوليت دی بلکي دا يو فرض کفايي عمل دی چې که چيرته ځيني خلک يي ترسره کړي نو د نورو څخه ساقطيږي او که چيرته څوک يی سرته ونه رسوي نو ټول ګناهګاريږي پدي کې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: زما له امت څخه ندي هغه څوک چې خپله خيټه ډکوي او ويده کيږي پداسی حال کې چې د هغه ګاونډي وږی وي او په هغه پوه هم وي چې هغه وږی دي نبي کريم کريم صلی الله عليه وسلم د هغه چا مرتبه چې دغه ټولنيز مسئوليتونه سرته رسوي ډير لوړ کړی دي او هغه څوک چې د خلکو اړتياوی پوره کوي د هغه چا څخه مخکې دې چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په جومات يعني مسجد نبوي کي اعتکاف کوي د ابي سعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت دی چې مونږ د نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره په سفر کې وو چې يو سړی په اوښ باندی سپور راغي او خپل نظر يي ښي او چپ اړخ ته اړولو نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې ددي توان لري چې د خپلي اوښي شاته بل څوک کينوي نو دغه کار دی سرته ورسوي او هغه چاسره چې زيات خواړه وي نو هغه چاته دي ورکړي چې هغه خواړه نلري همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: په خلکو کې الله جل جلاله ته دير محبوب هغه څوک دی چې هغه خلکو ته ګټه رسوونکي وي او الله جل جلاله ته په کارونو کښې تر ټولو نيک کار هغه دی چې بل مسلمان ته پري خوښي حاصليږي او يا د هغه سختي پری لري کيږي او يا د هغه پور خلاصيږي او يا له هغه څخه لوږه لري کيږي او زه چې د يو چا سره ولاړ شم او د هغه اړتيا پوره کړم نو ماته لدي څخه ډير غوره دي چې پدغه جومات کښې کينم او يو مياشت اعتکاف وکړم چې مقصد يی مسجد نبوي وو او څوک چې د خپل بل ورور سره ولاړ شي او د هغه اړتيا پوره کړي نو

الله جل جلاله به د هغه قدمونه د قیامت په ورځ ثابت پاتی کړي او د هغه سره به مرسته وکړي.
نبي کریم صلی الله علیه وسلم همیشه د خپلو صحابه ؤ ښخه پوښتنه کوله چې د خلکو اړتیاوي پوره کړي او همدارنګه د هغوی ګټو د لاسته راوړلو لپاره یي هڅه کړي ده او که نه؟ او همدارنګه تل به یی ددي تعقیب کولو نبي کریم صلی الله وسلم یوه ورځ وفرمایل: په تاسو کښې چا نن روژه نیولی وه؟ ابوبکر رضی الله عنه وویل ما، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل په تاسو کې چا نن په جنازه کې ګډون کړی وو ابوبکر رضی الله تعالی عنه ورته وفرمایل چې ما، بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نن په تاسو کې چا یو مسکین ته خواړه ورکړي دي ابوبکر رضی الله عنه وفرمایل چې ما، بیا یی وفرمایل په تاسو کې چا نن د ناروغ پوښتنه کړی ده ابوبکر رضی الله عنه ورته وویل چې ما، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: هر چا چې دغه کارونه سرته ورسول هغه به جنت ته داخلیږي.
د مسئولیت د شکلونو ښخه بل هم د هیواد په وړاندي ملي مسئولیت دی ځکه چې هیواد په مونږ او تاسو ټولو باندي حق لري او مونږ د هیواد په وړاندي لوییمسئولیت لرو تر څو د هغه ساتنه وکړو او د هغه د پرمختګ او لوړتیا لپاره کار وکړو نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل صحابه د خپلو هیوادونو د ساتني او دفاع لپاره هڅولي وو ترڅو د خپلو ځانونو او مالونو قرباني ورکړي او د خپلو هیوادونو د مقدساتو ساتنه وکړي او د الله په لاره کې جهاد وکړي او لوی دلیل پدي کې دا دی چې الله جل جلاله د هغه چا شان او مرتبه لوړه کړي ده چې خپل ځانونه یي د خپل دین او د هیوادونو په دفاع کې قرباني کړي دي الله جل جلاله فرمایی: {إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ} ژباړه: «حقیقت دا دی چې الله له مؤمنانو ښخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه

د جنت په بدله کښې اخيستي دي، هغوی د الله په لار کښې جنګيږي، نو وژني او وژل کيږي، له هغو سره په تورات، انجيل او قرآن کښې (د جنت وعده) د الله پر ذمه باندې يوه کلکه پخه وعده ده».
د هيواد په وړاندې د ملي مسئوليت له جملې څخه بل دا دی چې د خپلو هيوادونو رغونه وکړو او همدارنګه د هغه د لوړتيا پرمختګ لپاره کار وکړو او لوړو او ملي ګټو ته په شخصي ګټو ترجيح ورکړو هڅې سره يو کړو اختلافات له منځه يوسو د دښمن په وړاندې يو صف ووسو او په يو سړي باندې راټول شو لکه چې الله جل جلاله فرمايي: وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا} ژباړه: « ټول يو ځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونيسئ او تيت و پرك کېږئ مه»، بل ځای کې فرمايي: {وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ} ژباړه: « او په خپلو منځو کښې شخړه مه کوئ، که نه نو په تاسي کښې به کمزوري پيدا شي، برم (د مقاومت توان) به مو لاړ شي. له زغم څخه کار واخلئ، په يقيني توګه الله د صابرانو ملګری دی».
او مونږ ټول بايد دا درک کړو هغه ورځ راتلونکې ده چې ټولو ته به وويل شي لکه چې الله جل جلاله فرمايي: {وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ} ژباړه: «او دوی معطل کړئ، د دوی څخه پوښتنه کيږي»، او د الله جل جلاله دغه وينا بايد درک کړو چې فرمايي: {يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَى مِنكُمْ خَافِيَةٌ} ژباړه: «هغه ورځ به وي چې تاسي وړاندې کړای شئ؛ ستاسي هيڅ راز به هم پټ پرې نښودل شي» که موضوع وړه وي او که لويه وي ځکه چې فرمايي: {إِنَّهَا إِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ} ژباړه: «يو شی (نېکي يا بدي) که د اوري د دانې په اندازه هم وي او په کوم لوی ګټ يا په اسمانونو يا ځمکه کې پټ شوی وي، الله به هغه راوباسي. بېشکه، الله باريك ليدونکی او باخبره دی».

اقول قول هذا و استغفرالله لی و لکم.

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

درنو مسلمانانو ورونو:

څو ګړۍ وروسته مونږ د خیر برکت او د فرمانبردارۍ د موسمونو څخه یو نوي موسم ته هرکلی وایو چې هغه د شعبان مبارکه میاشت ده دا هغه میاشت ده چې پدي کښې ټول اعمال الله جل جلاله ته وړاندی کیږي نو له همدی لپآره نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدغه میاشت کې زیات عبادت او طاعت کولو ته امر کړی ترڅو الله جل جلاله ته نژدی شي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدغه میاشت کې روژه نیوله تردي اندازي پوري چې صحابه کرامو پام به ورته را ګرځیدو همدا وو چې له هغه څخه یی ددغه زیاتي پاملرني د راز په هکله پوښتنه وکړه اسامه بن زید څخه روایت دی چې ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې ای د الله رسوله! ماته نه یی لیدلي چې په میاشتو کښې دومره روژي ونیسي لکه په شعبان میاشت کښې چې روژه نیسي؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا هغه میاشت ده چې د رجب او رمضان د میاشتو ترمنځ ده او خلک پدي کې غافله وي او حال دا چې دا داسي میاشت ده چې ټول اعمال الله جل جلاله ته پکي وړاندی کیږي نو زه خوښ ګڼمه چې زما عمل الله جل جلاله ته داسي وړاندی شي چې زه روژه دار ووسم.

د حضرت عائشه رضی الله عنها څخه روایت دی فرمایی: نبي کریم صلی الله علیه وسلم به داسی روژه نیوله تردي چې مونږ به ویلې چې هغه روژه نه ماتوي او افطار به یي پداسی ډول کولو چې مونږ به ویل هغه روژه نه نیسي او ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم ندی لیدلی چې ټوله میاشت یی روژه نیولی وي مګر د رمضان په میاشت کښې چې ټوله میاشت به یي روژه نیوله او ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم ندی لیدلي چې زیاتی روژی به یی نیولی مګر د شعبان په میاشت کې به یی روژي زیاتی نیولي.
همدارنګه الله جل جلاله د شعبان میاشت پدی باندي هم ځانګړي کړی ده چې پدي کې داسي یوه مبارکه شپه ده چې الله جل جلاله د خپلو بندګانو د احوالو پوښته کوي او هغوي ته د نرمښت او د رحمت نظر کوي او د هغوي د ګناهونو د معافولو او د عیبونو پټولو فضیلت پری کوي چې دا د شعبان د میاشتي په نیمايي کې شپه ده د ابي موسی اشعري رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: یقینا الله جل جلاله د شعبان په نیمایی کې د شپي د خپلو بندګانو پوښتنه کوي او ټولو مخلوقاتو ته بخښنه کوي مګر هغه چاته بخښنه نکوي چې هغه شرک کړی وي په بل روایت کې راځي د شعبان د میاشتی په نیمایی کې د شپي الله جل جلاله د خپلو بندګانو احوال اخلي مومنانو ته یخښنه کوي او کافرانو ته وخت ورکوي ترڅو اصلاح شي او د کیني خاوندانو ته هم مهلت ورکوي ترڅو کینه پریږدي او الله ته رجوع وکړي او له هغه څخه دعاء وغواړي.
نو مونږ او تاسو ټولو ته مناسبه ده چې ددغه مبارکو ورځو څخه ګټه پورته کړو زیات طاعت او زیاته ښیګڼه وکړو ترڅو الله جل جلاله ته ځان نژدی کړو لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدی هکله فرمایلي دي: یقینا الله جل جلاله د کال په ورځو کې ځیني داسي ورځي دي چې تاسو ته

پری بخښنه کوي نو تاسو هغه ته ځان برابر کړئ ځکه چې که چیرته چاته دغه بخښنه ورسیده نوبیا هغه هیڅکله نه بدبخته کیږي.
ای الله مونږ سره مرسته وکړه ترڅو ستا ذکر او شکر اداء کړو او په ښه ډول ستا عبادت ترسره کړو.